# په اخيري وخت کې به داسې خلک راڅرګند شي چې عمرونه يې لږ او عقلونه يې کم وي، د مخلوق تر ټولو ښه وينا به کوي، خو له اسلامه به داسې وځي لکه غشی چې له ليندۍ څخه وځي

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی (وايي) کله چې زه تاسو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم حديث بيانوم، نو دا چې له اسمان څخه لاندې راپرېوځم راته ډېره غوره دي لدې چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم دروغ ووايم، او کله چې تاسو سره هغه خبرې کوم چې زموږ او ستاسو تر منځه خپلمنځي خبرې دي، نو جنګ دوکه ده، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «په اخيري وخت کې به داسې خلک راڅرګند شي چې عمرونه يې لږ او عقلونه يې کم وي، د مخلوق تر ټولو ښه وينا به کوي، خو له اسلامه به داسې وځي لکه غشی چې له ليندۍ څخه وځي د دوی ايمان به تر ستوني هاخوا نه تېرېږي، نو هر چېرې چې ورسره مخ شوئ، ورسره وجنګېږئ او وې وژنئ؛ ځکه د هغوی وژل د هغه چا لپاره د قيامت په ورځ اجر دی چې وژلی يې وي».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

امير المؤمنين علي بن ابي طالب رضي الله عنه وايي چې کله مې تاسو ته د نبي صلی الله علیه وسلم خبرې کولې، نو زه به د کنايې کلمې ونه کاروم، نه به ځان هاخوا ديخوا کړم او نه به هېڅ شی پټ کړم، بلکې زه به په زغرده خبرې وکړم، او دا چې له اسمان څخه راولېږم دا راته ډېره اسانه ده لدې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه خبرې وکړم او دروغ پرې ووايم، او کله چې هغه خبرې کوم چې زما او د خلکو تر منځه دي، نو جګړه دوکه ده، کېدی شي يوه کنايه وکاروم، يا ځای هاخوا ديخوا کړم او يا خبره پټه کړم، يقينا چې ما له نبي صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: په وروستۍ زمانه کې به داسې کم عمره ځوانان راشي چې عقلونه به يې کمزوري وي، دوی به د قرآن کريم څخه خبرې کوي او ډېر به يې تلاوت کوي، خو دوی به له اسلام څخه وځي او له حدودو څخه به يې داسې تېرېږي لکه څنګه چې غشی له ليندۍ څخه وځي، د دوی ايمان به د دوی له ستوني څخه نه تېرېږي، نو هرچېرې مو چې دوی وموندل، وې وژنئ، ځکه د دوی وژل به د قيامت په ورځ د هغه چا لپاره اجر وي چې دوی يې ووژلي وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65868